Permanent Mission of Afghanistan to the United Nations

د جلالتمآب ښاغلي نصير احمد فايق وينا

په ملګرو ملتونو کې د افغانستان د دايمي استازولۍ شارژدافير

د جرمونو د نړيوالې محکمې راپور – د اجنډا ۷۳مه ماده

د ملګرو ملتونو د عمومي اسمبلۍ غونډه

د ۲۰۲۶ کال د نومبر ۲مه

اغلې رئيسې،

د جرمونو د نړيوالې محکمې له رئيسې څخه د محکمې د کلنې راپور د وړاندې کولو له امله مننه کوو. همدارنګه، د محکمې د قاضيانو، څارنوال او کارکوونکو د پرلەپسې هڅو ستاينه کوو چې د نړيوال جزايي عدالت د ټينګښت لپاره يې کوي.

افغانستان د روم د اساسنامې غړی دی. د تر ټولو درنو نړيوالو جرمونو د عاملانو له سزا څخه د معافيت پر وړاندې مبارزه زمونږ لپاره تر يوه حقوقي مکلفيت ډېره معنا لري. زمونږ دا ژمنتيا د خپل ولس په ترخو تجربو کې ريښه لري. زمونږ خلکو لسيزې جګړه او د بشري حقونو جدي سرغړونې زغملې دي او بيا بيا يې ليدلې چې عدالت نه دی تأمين شوی.

اغلې رئيسې،

د افغانستان د خلکو لپاره عدالت او حساب ورکونه يوازې نظري مفاهيم نه دي. زمونږ خلک غواړي چې عدالت يې له ځنډه تأمين شي او مسئول کسان حساب ورکړي.

پنځه کاله کېږي چې طالبان د پوځي ځواک له لارې بېرته واک ته رسېدلي دي. افغان ښځې او نجونې له سيستماتيک او بنسټيز شوي تبعيض، ځورونې او تعقيب سره مخ دي او له زده کړو، کار او په عامه ژوند کې له ګډون څخه محرومې پاتې دي. د بشري حقونو مدافعان، خبريالان، د پخوانيو امنيتي ځواکونو غړي، لږکي او هغه کسان چې دا تګلارې ننګوي، لا هم له جدي ګواښونو او ناوړه چلند سره مخ دي.

د خلکو د بنسټيزو حقونو سلبول د واکمنۍ په تګلاره بدل شوي دي. په ورته وخت کې، قربانيان د خوندیتوب، د زيان د جبران او عدالت ترلاسه کولو ته ډېر لږ لاسرسی لري.

په دې شرايطو کې، د افغانستان د وضعيت په اړه د محکمې د څېړنو د دوام هرکلی کوو.

په ځانګړې توګه، د ۲۰۲۶ کال د اکتوبر د ۵مې د هغې پرېکړې هرکلی کوو چې له مخې يې محکمې د طالبانو د مشر په ګډون د دې ډلې د لوړپوړو چارواکو د نيولو څلور حکمونه علني کړل. دا حکمونه د جنسيتي او سياسي لاملونو له مخې د ځورونې او تعقيب په تور صادر شوي دي. په دغو حکمونو کې دا کړنې د بشريت پر وړاندې د جرم په توګه مطرح شوې دي.

دا پرېکړه د مسئولينو د حساب ورکونې په لور يو مهم ګام دی. محکمه په دې پرېکړه کې مني چې سيستماتيک او بنسټيز شوی تبعيض، د خلکو له خپلو بنسټيزو حقونو څخه په قصدي ډول محروموں هم پکې شامل دي، د نړيوالو حقوقو له مخې جرم ګڼل کېدای شي.

دا پرېکړه افغان ښځو او نجونو او همدارنګه قربانيانو او ژوندي پاتې شويو کسانو ته يو مهم پيغام لري. د دوی کړاو له پامه نه دی غورځېدلی، د دوی پر حقونو معامله نه شي کېدای او هغه کسان چې د دوی په ځورونه او تعقيب تورن دي، د نړيوال عدالت له لاسرسي بهر نه دي.

خو د حساب ورکوني بهير بايد د نيولو د حکمونو په صادرېدو پای ته ونه رسېږي. د دغو حکمونو تر صادرېدو وروسته بايد د تورنو کسانو د نيولو، د تورونو د قضايي څېړنې او قربانيانو ته د عدالت د تأمين لپاره عملي ګامونه واخيستل شي.

اغلې رئيسې،

د نړيوال عدالت تأمين د دولتونو په همکارۍ او سياسي ارادې پورې تړلی دی.

له همدې امله، د روم د اساسنامې له ټولو غړو دولتونو غواړو چې د دې اساسنامې له مخې خپل مکلفيتونه په بشپړه توګه ترسره کړي. په دې کې له محکمې سره د هغو کسانو په نيولو او محکمې ته د هغوی په سپارلو کې همکاري هم شامله ده چې د نيولو حکمونه يې صادر شوي دي.

سياسي مقام، نفوذ يا پر يوې خاورې واک بايد هېڅوک له حساب ورکونې څخه خوندي نه کړي.

مونږ همدارنګه د شواهدو او اسنادو په راټولولو او ساتلو، د قربانيانو او شاهدانو په خوندي کولو او د ګواښونو او غچ اخيستونکو کړنو په مخنيوي کې د پياوړې نړيوالې همکارۍ غوښتنه کوو.

په همدې لړ کې، مونږ د جرمونو د نړيوالې محکمې، په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعيت په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي او د بشري حقونو شورا له خوا د جوړ شوي خپلواک څېړنيز ميکانيزم ترمنځ د اغېزمنې همکارۍ ملاتړ کوو. دا همکاري بايد د هر يوه د ټاکل شوو صلاحيتونو په چوکاټ کې ترسره شي.

دغه بنسټونه بايد د يو بل کار پياوړی کړي، ډاډ ترلاسه کړي چې شواهد او اسناد خوندي پاتې کېږي او عدالت ته د قربانيانو د لاسرسي لپاره د باور وړ لارې برابرې کړي.

مونږ ټينګار کوو چې د حساب ورکونې بهير بايد خپلواک او بې‌پرې وي او قربانيان يې په مرکز کې ځای ولري. افغان بنځې، ژوندي پاتې شوي کسان، اغېزمنې ټولنې او مدني ټولنه بايد وکولای شي چې په دغو بهيرونو کې په خوندي او مانادار توګه ګډون وکړي.

اغلې رئيسې،

مونږ اندېښنه لرو چې که د بشري حقونو په برخه کې څرګند پرمختګ ونه شي، له طالبانو سره د نړيوال تعامل دوام بنايي ځپنه عادي وګرځوي او د عدالت د تأمين هڅې کمزورې کړي.

حساب ورکونه بايد د سياسي تعامل پر وړاندې خنډ ونه ګڼل شي او نه بايد د لنډمهالو سياسي ملاحظاتو قرباني شي.

بشري مرستې بايد دوام ومومي او د افغانستان خلک بايد يوازې پرېښودل شي. خو تعامل بايد هېڅکله هغو کسانو ته چې د جدي نړيوالو جرمونو د ارتکاب مسئوليت لري، مشروعيت يا له سزا څخه معافيت ور نه کړي.

افغانستان د افغانانو په مشرۍ او د ملګرو ملتونو په تسهیل یوه سیاسي بهیر ته ژمن دی. دا بهیر باید د یوه ټولشموله او حساب ورکوونکي نظام د رامنځته کېدو لامل شي چې د افغانستان د خلکو استازولي وکړي او د هغوی پر حقونو او ارادې ولاړ وي.

د عدالت انکار د یوه تلپاتې سیاسي حل بنسټ نه شي کېدای.

اغلې رئیسې،

د افغانستان خلک له ډېرې مودې راهیسې له سزا څخه د معافیت پایلې زغمي. هر ځل چې د جرمونو عاملان حساب ورکونې ته نه دي راکاږل شوي، د قربانیانو کړاو لا ژور شوی او پر عدالت د خلکو باور کمزورۍ شوی دی.

د جرمونو د نړیوالې محکمې وروستیو اقداماتو یو مهم فرصت برابر کړی چې د معافیت د دې لړۍ د ماتولو لپاره کار پیل کړو.

په پای کې، د نړیوال عدالت د ارزوني معیار به د نیولو د صادر شوو حکمونو شمېر نه وي. معیار به دا وي چې ایا د جرمونو عاملان د خپلواکو محکمو پر وړاندې حاضرېږي، ایا د قربانیانو غږ اورېدل کېږي او ایا عدالت تأمینېږي.

له عدالت پرته تلپاتې سوله ممکنه نه ده او له عملي اقدام پرته حساب ورکونه اعتبار نه لري.

له غړو دولتونو غواړو چې د عملي همکارۍ، دوامدار ملاتړ او سیاسي ارادې په ښودلو سره خپلې اعلان کړې ژمنې پوره کړي.

د افغانستان خلک تر دې د کم څه وړ نه دي.

مننه.